د افغانستان اسلامي امارت
د اقتصادي چارو کمېسیون

د افغانستان اسلامي امارت
د اقتصادي چارو کمېسیون
(۳) مه مصوبه
د ۱۴۴۴هـ.ق د ربیع الثاني ۲۸مه
د ۱۴۰۱هـ.ش د لیندۍ ۲مه

اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴ هـ.ق کال دریېمه غونډه، چهارشنبه د ۱۴۴۴ هـ.ق کال د ربیع الثاني ۲۸ مه (د ۱۴۰۱ هـ.ش کال د لیندۍ ۲مه) د ماسپښین پر(۲:۰۰) بجو په مرمرینه ماڼۍ کې د عظیم‌الشان قرآن د مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه. غونډې د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال او اقتصادي کمېسیون رئیس محترم الحاج ملا عبدالغني برادر آخند په مشرۍ دوام وکړ.

په غونډه کې له هر اړخیزو بحثونو وروسته، لاندې پرېکړې وشوې:

**لومړی موضوع:** له سرای شهزاده سره د شته ځمکې د ملکیت او پر هغې د مارکېټ جوړولو موضوع. دا موضوع د ا.ا.ا د عالیقدر مشرتابه د هدایت پر بنسټ د کمېسیون په اجنډا کې ونیول شوه او په اړه یې داسې پرېکړه وشوه:

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱ | د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د محترم سرپرست په مشرۍ، د ښار او کور جوړولو چارو وزارت او کابل ښاروالۍ مسلکي انجنیران دې د اقتصادي معاونیت، مالیې وزارت او د پانګونې د تسهیل ریاست د استازیو په شتون کې د سرای شهزاده تر څنګ د سوداګریز مرکز د ودانۍ د جوړولو نقشه په هراړخیز ډول وڅېړي او د خپلو څېړنو په اړه دې اقتصادي کمېسیون ته رپوټ وړاندې کړي. د نقشې له برابرولو او تایید وروسته به د سوداګریز مرکز د جوړولو د څرنګوالي په اړه د مشرتابه عالیقدر مقام ته وړاندیز وشي. | اقتصادي معاونیت، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت، د ښار او کور جوړولو چارو وزارت، مالیې وزارت، د پانګې د تسهیل ریاست، کابل ښاروالي | عاجل |

**دویمه موضوع:** د ا.ا.ا د اقتصادي معاونیت د هدایت پر بنسټ، د ډبرو سکرو او اړوندو موضوعاتو د څېړنې په موخه بلخ او سمنګانو ته د ټاکل شوي پلاوي رپوټ. د ډبرو سکرو د استخراج په برخه کې د ستونزو د څېړنې په موخه د مالیې وزارت په مشرۍ یو پلاوی یادو ولایتونو ته تللی و او د خپلو موندنو په اړه یې رپوټ برابر کړی و. اقتصادي کمېسیون دغه رپوټ واورېد او لاندې پرېکړه یې وکړه:

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۲ | بلخ او سمنګانو ته د استول شوي پلاوي رپوټ تایید دی. اړوند وزارتونه او نورې ادارې دې په رپوټ کې د رانغاړل شویو سپارښتنو او وړاندیزونو د پلي کېدا لپاره عملي پلان جوړ کړي او د خپلو اجراآتو په اړه دې اقتصادي کمېسیون ته رپوټ وړاندې کړي.<br>د کانونو او پټرولیم وزارت د یو معین په مشرۍ دې په ولایتونو کې د مرکزي وزارتونو او ادارو د اړوندو ریاستونو یوه ګډه کمېټه جوړه شي چې د کانونو ټولې اړوندې چارې وڅاري. د دغې کمېټې لګښت دې د کانونو او پټرولیم وزارت ورکړي.<br>د کانونو د امنیت د تامین لپاره دې ۲۰۰ - ۳۰۰ کسیزه نظامي قطعه | ټاکل شوی پلاوی، اړوندې ادارې | عاجل |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Islamic Emirate of Afghanistan
Economic Commission Secretariat

| | | | |
|---|---|---|---|
| | جوړه شي. په دې قطعه کې دې روزل شوي نظامیان استخدام شي او قطعه به د کانونو او پټرولیم وزارت تر امر لاندې فعالیت کوي. | | |

**درېیمه موضوع:** د کانونو او پټرولیم وزارت د ډبرو سکرو په اړه خپل راپور عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله ته وړاندې کړی دی، چې د عالیقدر مشرتابه دفتر پرې اقتصادي کمېسیون ته داسې حکم صادر کړی دی:(دغه راپور په دقت مطالعه کړئ، د یوې اوونۍ په موده کې د ډبرو سکرو د استخراج او قراردادونو په هکله یوه جامع طرحه جوړه کړئ او د منظورۍ لپاره یې موږ ته راولېږئ).

| | پربکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۳ | د کانونو او پټرولیم وزارت دې د ډبرو سکرو د استخراج او قراردادونو طرحې ته چې مخکې یې برابره کړې ده، بلخ او سمنگانو ته د استول شوي گډ پلاوي د رپوټ په رڼا کې یو ځل بیا کتنه وکړي او وروستی متن دې اقتصادي معاونیت ته واستوي چې د کمېسون له غړیو سره شریک شي او بیا د هغوی له نظریاتو سره اقتصادي کمېسیون ته وړاندې شي. | د کانونو او پټرولیم وزارت | عاجل |

**څلورمه موضوع:** جامعه امام ابوحنیفه د عالیقدر امیرالمؤمنین دفتر ته وړاندیز کړی او د ډبرش لکه ټنو ډبرو سکرو غوښتنه یې کړې ده چې هر ټن ورته په دوه زره افغانۍ ورکړل شي. د عالیقدر مشرتابه دفتر په دې اړه د اقتصادي کمېسیون نظر غوښتی و چې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

| | پربکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۴ | دغه راز غوښتنه د منلو نه ده. که جوماتونه، دیني مدرسې او نور بنسټونه مرستې ته اړتیا لري، نو امارت کولای شي د امکان په صورت کې له یادو بنسټونو سره نغده مرسته وکړي. | اقتصادي معاونیت | د اړتیا پر مهال |

**پنځمه موضوع:** ایران ته د ا.ا.ا د ملي دفاع وزارت پلاوي سفر کړی او د هغه هېواد له مقاماتو سره یې د نورو موضوعاتو تر څنگ د تېلو او اوبلن گاز د واردولو په اړه هم خبرې کړې دي. د عالیقدر مشرتابه دفتر غوښتنه کړې ده چې اقتصادي کمېسیون دې د پلاوي یو غړی ور وغواړي چې د خبرو په اړه وضاحت ورکړي او د عملي کولو لپاره یې یوه طریقه جوړه شي. دغه راز له روسیې څخه د تېلو د واردولو په اړه هم عالیقدر مشرتابه د معلوماتو غوښتنه کړې ده.

| | پربکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۵ | د ملي دفاع وزارت، د مالیې وزارت او د تېلو او گاز دولتي شرکت دې ایران ته د ملی دفاع وزارت د پلاوي د سفر په اړه خپل توحیدي رپوټ اقتصادي معاونیت ته راولېږي چې د مشرتابه عالیقدر مقام ته وړاندې | د ملي دفاع وزارت، د مالیې وزارت، د تېلو او گاز دولتي شرکت، د صنعت او سوداگرۍ | |

| پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
| --- | --- | --- |
| شي.<br>د صنعت او سوداګرۍ وزارت دې روسیې ته د خپل سفر رپوټ په رسمي توګه اقتصادي معاونیت ته وړاندې کړي چې د مشرتابه له عالیقدر مقام سره شریک شي. | وزارت | |

**شپږمه موضوع:** تکافل شرکت ته د سوداګریزې بیمې د شرکتونو اړول. د ۱.۱.۱ کابینې او همدارنګه اقتصادي کمېسیون د علومو اکاډمۍ ته دنده سپارلې وه چې د بیمې موضوع استعجالیت او د هېواد پر اقتصاد د هغې د اغېزو په پام کې نیولو سره، د بیمې بدیل یعنې تکافل طرحه جوړه کړي. د علومو اکاډمۍ دا طرحه جوړه کړې ده او اقتصادي کمېسیون یې په اړه داسې پرېکړه وکړه:

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
| --- | --- | --- | --- |
| ٦ | تکافل شرکت ته د سوداګریزې بیمې د شرکتونو د اړولو طرحه د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله حضور ته استول شوې ده، دا یوه شرعي موضوع ده او باید د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله له هدایت سره سم اجراآت وشي. | اقتصادي معاونیت، د علومو اکاډمي، د چارو ادارې لوی ریاست | عاجل |

**اوومه موضوع:** د عینک مسو کان له سیمې څخه د تاریخي آثارو د لېږد په اړه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت طرحه. د ۱.۱.۱ د اقتصادي چارو کمېسیون د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته دنده سپارلې وه چې د عینک مسو کان له سیمې د تاریخي آثارو د لېږد طرحه برابره کړي. کمېسیون د طرحې په اړه داسې پرېکړه وکړه:

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
| --- | --- | --- | --- |
| ۷ | د اقتصادي کمېسیون د رئیس په مشرۍ دې د اړونده ادارو څخه یو هیئت د عینک د معدن ساحې ته سفر وکړي او له ساحې دې عملي لیدنه وکړي. وروسته به د دې موضوع په اړه نهایي فیصله ترسره کیږي. | اقتصادي معاونیت، د کانونو او پټرولیم وزارت، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت | یوه اوونۍ |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan